# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (٩٨٩) سال هژدهم شماره (٧٤) پنجشنبه (٣٠) سنبله ١٣٧٤ هـ ، ش (٢٦) ربيع الثانی ١٤١٦هـ ، ق (٢١) سپتمبر ١٩٩٥ م

قيمت (٢٠٠) افغانی ( ٢ روپيه


به منظور يك مانور سياسی

## عساکر ايرانی درسرحدات افغانستان به تمرينات نظامی آغاز نموده اند

پشاور ٢٨ سنبله .

منابع خبری پاکستان گزارش داده اند که از چند روز به اينطرف نظاميان ايرانی درمناطق مرزی بين افغانستان وپاکستان مشق های نظامی را آغاز نموده اندکه هدف آن تاکنون معلوم نميباشد.

دراين گزارش علاوه شده که اين تمرينات شايد به اين منظوربراه انشيده باشد تا طالبان از تحرکات زياد درسرحدبين ايران و افغانستان خود داری نمايند.

قابل ياد آوريست که پس از سقوط هرات بدست طالبان پاليسی ايران درقبال افغانستان دستخوش تغيرات اساسی وعمدهٔ شده چنانچه در اولين روزهای سقوط هرات بدست طالبان حکومت ايران مرزهای کشور شان را با افغانستان بستند وبه افغان ها اجازه ورود وخروج از سرحد را نميدادند . اماگفته شده که مرزدوباره بازشده وتبليغات رسانه های خبری ايران نيز درقبال طالبان نرم شده است .

توسط يك فارغ شعبهٔ انجنيری پوهنتون دعوت وجهاد

## راديوی بدون برق وبطری اختراع گرديد

پشاور - ٢٨ سنبله .

يکتن ازفارغان پوهنځی انجنيری پوهنتون دعوت وجهاد مؤفق به ساختن راديوی گرديده است که درآن بالتی ، بطری ويا برق به کار نميرود.

خبرنگار شهادت از کمپ جلوزی گزارش ميدهد که برادرنقيب الله "نقيب" که سال گذشته از پوهنځی انجنيری پوهنتون دعوت وجهاد فارغ شده مؤفق به ساختن راديوی گرديده که درآن از برق ويا بالتی استفاده نمی شود.

درگزارش علاوه گرديده است که شکل وساختمان اين راديو شبيه به يك غوری بوده وصرف استيشنی راميگيرد که درنزديکی آن قرارداشته باشد. خاصيت مهم وعمدهٔ اين راديو اين است که تا هنگام فعال بودن استيشن راديو هم فعال ميباشد وبه مجرد خاموش شدن آن راديو هم خاموش می شود ، پول که در راديو با ساختن اين راديو مصرف گرديده بدون لودسپيکر مبلغ بيست روپيهٔ پاکستانی ميباشد.

حزب اسلامي د«رباني» اومسعود دغوښتني په ځواب کي ويلي :

# له استعفی پرته هیڅ راز خبروته چمتو نه يو

جلال آباد - د وږي ٢٩ مه :

په دي وروستيوکي دکابل اداري مشرو رباني » اواحمد شاه «مسعود» دحزب اسلامي له بېلابېلو مسئولينوسره تماس نيولي اوويلي ئي دي چي دوي دحزب اسلامي دټولو شرايطو منلوته چمتودي اوهيله لري چي دحزب بولوړرتيه هيئات ورسره مذاکراتوته کښېني .

دحزب د يوې مسئولي منبع له خولې وشهادت خبريال ريوټ راکوي چي دحزب اسلامي له خواه‌رباني » اوه‌مسعود » ته په ثرگندو الفاظوکي ځواب ورکړشوي دي چي حزب د«رباني» لـه ژرترژره اوبي قيدوشرطه استعفي پرته له هغوي سره هيڅ رازخبرواتروته چمتونه دي اوحزب اسلامي به دهيڅ ډول امتيازپه بدل کي له خپل دي اصولي دريځ نه واته وړي .

## کابل اداره دځينوکسانوله لاری دطالبانو اوهماهنگی شوری ترمنځ دتفاهم عمليه تخريبوی

«شهادت» ته يوي باوري منبع وويل چي «رباني» او«مسعود» هڅه کوي چي دوطالبانو» او«هماهنگي شوري» ترمنځ دتفاهم اوهماهنگي دايجادعمليه تخريب کړي او پرېنږدي چي دکابل اداري دسقوط لپاره بوپراخ ،پريکنده اوهماهنگ اقدام وشي .

(٤)مخ

## دحزب ځواکونو دمسعود تر مستقيمی قوماندی لاندی تعرضی بريد شنډ کړ

سروبي - د وږي ٢٩ مه :

پرون شپه په دريوبجو دنظارشورا پلوځان دمسعود ترمستقيمي قوماندي لاندي يوځل بيا په لته بندکي دحزب اسلامي مرکزونه تريوه لوي تعرضي بريد لاندي ونيول چي په نتيجه کي ددوي دابريددسخت مقاومت سره مخامخ اوشنډشو.

په سروبي کي دحزب اسلامي دځواکونو يوه مسئول خبرځاي شهادت ته وويل پدي بريدکي چي څوساعته ئي دوام وکړ دسبداجان په نوم دنظارشورا يوه قوماندان اودمسعود دخاصي کوماندو ٧ تنه ( سهراب،بارگل، جميل ، قمر،حسن، جمال اوجمعه گل ) چي دجبل السراج اوسېدونکي دي ونيول شول . په دي

(٢) مخ

په سروبي باندي دبريد په ترڅ کي له "مسعود" سره دحاجي قدير اوځينو نورو کسانو دمرستي په وجه :

## په دوو يا دريو ورځو کی دختيزو ولايتونو دشوری دانحلال قوی احتمال دی

## دننگرهارشوری دغړو اکثريت په دی نظردی چی نوی والی وټاکی

## طالبانوهم حاجی قديرته توندگواښ کړی دی

جلال آباد - د وږي ٢٩ مه :

په سروبي باندي دحملي په وخت کي له احمدشاه مسعود سره دننگرهار دوالي حاجي عبدالقدير دمرستي په وجه په ننگرهارکي جدي بحثونه راولاړشوي دي.

له جلال آباد نه وشهادت خبريال دباوري منابعوپه حواله ريوټ راکوي چي دننگرهارشوري زياتره غړي له مسعود سره دحاجي قديرپه پخواړيکو اوله هغه سره ددي ژمني په کولو چي دي به ننگرهاردکابل اداري په لمن کي نغورځوي ، په غوسه کړي اوپه دي ئي جدي بحث شروع کړي چي بايد دختيزوولايتونو شوري منحل شي ، دننگرهار لپاره نوي والي وټاکل شي اوپه نورو اساسي بدلونونو هم غورروشي .

(٢)مخ

## ٦٠٠ ميله کلاشنکوفونه له نظارشوری ځخه ونيول شول

## دهماهنگی شوری ځواکونو ددرهٔ صوف ولسوالی په بشپړه توگه تصفيه کړه

سمنگان - د وږي ٢٩ مه :

دسمنگانو ولايت څخه دهماهنگي عالي شورا دنظامي ځواکونو عمومي قوماندانانې په خپل مخابروي ريوټ کي شهادت ته وويل چي ورمه ورځ دوږي په ٢٧ مه دهماهنگي عالي شورا ځواکونو ددره صوف په ولسوالي کـي خپل تصفيوي عمليات پيل کړل چي په نتيجه کي ئي تر ديرلږمقاومت وروسته دانتلافي اداري ځواکونو ټوموري ولسوالي پريښوده .

منبع وويل اوس نوموړي ولسوالي په بشپړه توگه دنظارشوري له ولکي څخه آزاده شوي او(٦٠٠) ميله کلاشنکوفونه (٢٠) ميله پيکاماشيندار، (١٢)ميله آر، پي ، جي ٧ راکټونه ، (٢) ميله بي پس لگد توپونه اوپه زياته اندازه نظامي مهمات دهماهنگي شوراځواکونوپه ولجه نيولي . منبع دمرگ اوژوبلي په باب کوم ريوټ ندي ورکړي.

روزنامه سلام چاپ تهران :

## استقرار طالبان درمرزهای غربی افغانستان يك خطر جدی برای ايران می باشد

## برای پيشگيری ازاثرات منفی بايدتدابير لازم اتخاذ گردد

پشاور - ٢٨ سنبله :

اگرچه تحولات افغانستان ودرگيريهاي گوناگون فعلي ولي بي منتها عمدتاً اثرات عام ومنفي برجمهوري اسلامي ايران داشته ودارد، امامورد اخيرعني سقوط هرات وحضورنيروهاي طالبان درجوار استانهاي مرزغربي افغانستان باجمهوري اسلامي ايران نکته اي است که نبايد بسادگي ازکنارآن گذشت ، . مطلب بالا گوشه يي ازتبصره هاي است که روزنامه معتبر سلام که درميان روشنفکران مسلمان ايران جايگاه وسيعي دارد آنرا به ارتباط اوضاع اخير افغانستان انتشارکرده است .

اين تبصره که درشمارهٔ ١٥ سنبله سلام به نشررسيده، طالبان يك گروه عجب الخلقه ونوظهور خوانده شده است گروهيکه باپخش دالر نيروهاي مخالف را راضي ميکند . روزنامه اهميت سوق الجيشي

ص(٤)

## طالبانوپه پنځوورځوکی دکابل دخوشی کولوگواښ وکړ

## «مسعود» دشديدمقاومت عزم لری

ميدان ښار - د وږي ٢٩ مه :

طالبانو گواښ وکړچي بايـد رباني اومسعود په پنځوورځوکي کابل خوشي کړي اودطالبانوپه وړاندي وسله کېږدي .

په ميدان ښارکي دطالبانو دځواکونو قوماندان «ملامشر» وويل چي ددوي زيات شمېر قوتونه راغونډشوي ، له کابل اداري سره دخبرو کولو هيڅ ځاي نه دي پاتي اوموږدوروستي ځل لپاره اخطار ورکوو چي بايد په پنځو ورځوکي دتنه دتنه وسله په ځمکه کېږدي اوله کابل نه ووځي .

ملامشرزياته کړه چي که داکاروونکړي پنځه ورځي وروسته بـه پرهغوي توند بريدخپل شي .

له بلې خواويل کېږي چي احمدشاه مسعود هم دطالبانو پرخلاف په سخته جنگي تدبيرونوکارکوي اودشديد مقاومت عزم لري .

## حزب دټولوهغوکسانودااخراج اومحاکمی پريکړه کړی چی له مسعودنه يی دسروبي ،لغمان اوننگرهاردتسليمولو په نامه پيسی اخستی

جلال آباد - د وږي ٢٩ :

دحزب اسلامي يوه مسئول خبرځاي شهادت ته وويل چي حزب اسلامي افغانستان پريکړه کړي چي ټول هغه کسان چي په سروبي باندي دحملي په وخت کي ئي دکابل له ائتلافي اداري نه پيسي اخيستي اوهغي ته ئي دننگرهار،لغمان اوسروبي دتسليمولو وعدي ورکړي له حزب نه اخراج کړي دهيواد دتنه ئي ونيسي اومحاکمي ته ئي راوړاندي کړي .

خبرځاي زياتوي چي دنوموړو کسانوليست جوړشوي، اوداخراج لپاره ئي دحزب دتخطيط اوتنظيم رياست اودنيولو ئي دامنيتي خدماتورياست ته ورکړل شوي دي .

ايران دطالبانومخالفينوته دافرادی ځواك دمرستي ژاډورکوي

## په هرات ،فراه او نيمروزکی دخونړی جگړی لپاره تياری نيول کيږی

## ايران له حزب نه دخپل دريځ دبدلولو غوښتنه کوي

مشهد - د وږي ٢٩ مه :

له مشهدنه يوباوري خبرځاي ريوټ راکوي چي پـه هغـه ښارکي دايراني مسئولينوله خوا تودي هڅي رواني دي چي له هرات ،فراه اونيمروزنه تيښتيدلي قوماندانان ژر منظم اواکمال کړي .

ريوټ واني چـي ايـران دطالبانو مخالفينوته دهرراز مرستي وعده ورکړي او،اوتي ورکړي چي چمتودي خپل افرادو ځواك هم ددوي په مرسته کي سوق کړي .

ريوټ زياتوي چي ايراني مسئولين اودطالبانومخالفين پلان لري چي په پيل کي طالبان په گوريلائي بريدونو سره گېچ کړي اوبياناڅاپه ددرنووسلو اوپلي قوي يوه خونړي حمله پيل کړي.

ريوټ واني چي تهران ته دسردارآصف سفراوهلته وظاهرشاه په تقش باندي دهغه ټينگار، ښائي روم ته سفر ايرانيان په اندېښنه کي اچولي اوپه دي لټه کي شوي چي په چټك اوموثرعمل لاس پوري کړي .

ريوټ زياتوي چي دايران حکومت له حزب اسلامي سره تماس نيولي اوترې غوښتني ئي دي چي په خپل دريځ کي بدلون راولي اوپه جنوب غرب کي ئي قوماندانان دطالبانو پرخلاف په راتلونکي جگړه کي برخه واخلي خوحزب اسلامي دهغوي ددي خبري مخالفت کړي اوپه خپل پخواني دريځ ئي ټينگارکړي دي .

اسمعيل خان والی سابق هرات :

## درسقوط هرات بدست طالبان پاکستان هيچ سهمی نداشت

اسمعيل خان والی سابق هرات وفرمانده عمومی ادارهٔ کابل در جنوب غرب کشور ضمن مصاحبهٔ مطبوعاتی اظهارداشته است که حکومت پاکستان درجهت تصرف هرات باطالبان هيچ گونه مساعدتی نکرده است .

موصوف اظهارداشته که علت شکست آنها در جنوب غرب وبالاخره از دست دادن هرات عدم همکاری وهمآهنگی بين افراد وقوت های تحت فرمان او بوده .

درگزارش علاوه شده که اسمعيل خان بصورت واضح واشکار ازمخالفت وعدم همکاری قوماندان هايش افضلی ، علاوالدين ، وعظيمی منحيث عامل عمده ومهم شکست نيروهايش درگرشك و شيندند وبالاخره هرات يادآورشده همچنان علاوه نموده که کشته شدن تعداد زياد ازافراد اوعامل ديگر شکست آنها بوده .

ص (٢)

روزنامه پاکستانی خبرين

## حکومت پاکستان امر مسدود شدن (٣٣) دفتر وموسسهٔ افغان را صادر نموده است

اسلام آباد - ٢٩ سنبله :

حکومت وفاقي به افغان کمشنرخبرداده است که ٣٣ دفترومؤسسهٔ مربوط به مهاجرين افغان درنواحي مختلف پشاور مسدود گردد.

روزنامهٔ «خبرين»چاپ اسلام آباد ضمن ارائه اين خبر نوشته است افغان کمشنرحسب هدايت حکومت مرکزی برای

ص(٤)

مولوي احمدجان له شهادت سره په مرکه کي :

## مولوی "حقانی" له زرووسلوالوکسانو سره لوگرته ورسيد

## صالح جهادی قوماندانان به په راتلونکی اردوکی اساسی برخه لری

پيښور - دوږي ٢٩ مه :

په پيښورکي د « طالبانو » دؤفتر مرستيال مولوي احمدجان پرون شهادت ته وويل چي مولوي جلال الدين «حقاني» ورمه ورځ له زرو وسلوالو کسانوسره لوگرته ورسيد.

مولوي احمدجان زياته کړه چي مولوي جلال الدين حقاني به دکابل په راتلونکي جگړه کي فعاله ونډه اخلي.

نوموړي زياته کړه که دطالبانودمرکزي قيادت له گواښ سره سم رباني

(٢)مخ

درجهان تاوقت سلاح عقیدت مستقیم
نابود کرد تاکسی بپا مردم مسلمان نهم ملت شهادت گاه نشد

# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وارمانهای حزب اسلامی افغانستان
**صاحب امتیاز:** حزب اسلامی افغانستان
**مؤسس:** انجنیرحکمتیار
**ناشر:** ریاست ارشادوفرهنگ
**تحت نظر هیئت تحریر**
**تلیفون:** ۲۵۶۳۷۸۹
**آدرس پستی:** ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

## دطالبانوگواښ

دادي «طالبانو» وويل چي لښكري موكابل ته راتولي شوي، كه په پنځوورځوكي «مسعود، اوواستادرباني» كابل ورته خوشي نكړي، قدرت دوي ته ونه سپاري اووسلي ورته كيښږدي ، بيابه ئي خبرنه وي.

بيابه داكيږي چي دطالبانولښكري به دكابل په كمربندونو ور دورمي ، هغه لښكرګچي دبوي لوټي غلبي « غرور» وورسره دي، دبوي بښي «سوبي» دافتخار نشانونه ئي په پګړيوكي ټومبلي دي اوتن سبا داخبري زمزمه كيږي چي نوربه په افغانستان كي ددوي «سكه» چليږي .

دطالبانوداخبره په ځاي ده چي لدوكابل اداري» سره نور دخبروځاي نه دي پاتي، واقعيت دادي دكابل مسئولينو په خپله دتفاهم اوقناعت لاري ټولي تړلي دي .

هغوي په تيرو تقريباً دري نيموكلونوكي ، دهرهغه جاهيلي ماني كړي چي ارزوئي وه دهيواد قضاياوي دبوه منطقي برخورد له لاري اواري شي، په پرښبونوخبري وشي ،په يوه قراردادي اوعقلاني بڼه له مسايلو سره برخورد وشي « دا«هيواد » اوجهاد» دټولو ويلل شي، هغه ديوه شخصي جايدادپه توګه ته ګڼل شي، په مسئوليت ، احساس او معقوليت عمل وشي ، دتذليل،محرومولو او توهينولو لاري پريښودلي شي، دنفرت ،تعصب اوتبعيض په بنيادسياستونه غوره نشي، په زور، دوګه اوجعل دملت دسرنوشت داغتصاب هڅه ونشي، داقتدارقبضه اوبقا دپرديو په غلامي كي ونه لټوله شي، داقتدار د«مشروعيت» اوترلاسه كيدو طبيعي لاردولس انتخاب اواراده وګڼله شي ، عزت اوشوكت دنوروپه ترټلو او بي برخولو كي نه بلكي دنورو په قانع كولو اوراټولولوكي وبالل شي، دضميرونو دخريدوفروش دبازاره تړدولو په ځاي دولس دزخمونوټكورته پام وشي، دارزښتونو پياوړتيا ، اوداقدارو رونق ته توجه وشي، درشوت اوخيانت په ځاي «دجهاد» اومعنويت » كلتوررواج شي، دد كمونستانو» اوفاشيستانوپه ځاي مجاهدين وبالل شي، دژبي په ځاي اسلام معيارشي، دسمت په ځاي هيواداصل وبلل شي اودځانګړي قوم په عوض «ملت » ارجح وشميرل شي.

بيوځت دكندهاربوعالم مولوي عبدالله «ذاكري» دعلماوو دسولي دهيئات په مشرتابه كابل ته تللي و، په ارګ كي ئي استاد«رباني» ته وويل :« ګوره ستاپه اداره كي فساد دي، تعصب دي، دجګړو داوروونو بلول دي، اخيرديوه «مجاهد» په صفت ددي لپاره څه حواب لري ، كه څه مشكل لري پرموږغږوكړه موږدي ټول عسكريوټول مجا ين ستاپوځ دي خوته داسلام اودي ملت لپاره كاروكړه ، ملګيه دسپاهيانوپه څيردرسره دريږو، داهم نه درته وايوچي ته دبدخشان ئي موږدجنوب اوجنوب غرب يو، ته تاجك ئي، موږپښتانه ،ستاپه اداره كي فلاني قوم زيات سهم لري اوفلاني لږ، هيڅ راز امتيازهم درڅخه نه غواړو .

ددي وضعي بدلون ته ملاوتړه اوددي ملت ددي بدي ورځي په ختمولو كي ګام پورته كړه ....»

ددي خبروپه وړاندي استاد«رباني» هماغه بابولالي ويلي چي پلاني باغي دي اوپلاني ګرم، زه خوشرعي اميريم اوكاني ، يولې مې ټول په اطاعت مكلف دي .

له دي خبرو زموږمطلب دادي چي كومي خواوي دي اوكومي منلي وي چي په دي لاركي ونشوي چي دكابل اداري مشران يوه معقول روش ته راوبولي اوپه دي ئي پوه كړي چي ستاسي غوره كړي لاردتباهي اوبربادي لارده ، راځي داملت نورله دي تراژيدي اوداسلام له دي بدنامي وژغورو. خو داستاد «رباني » اومسعود حالت هماغه وچي واني « زمين جنبد، نه جنبد غلام محمد » .

دطالبانو داخبره بيخي په ځاي ده چي متأسفانه دكابل مسئولينونوري ټولي لاري بندي كړي، ټولي هيلي ئي ماتي كړي او ملت ئي دناهيلي انتهاته رسولي دي .

په داسي يوه حالت كي واضح ده چي له «جګړي» اوه زور» پرته په نورڅه فكركيداي شي چي هغه دكابل اداره په انحلال مجبوره كړي اودي ته لاراواره شي بي دبحران دحل لپاره واړه ګامونه پورته شي .

مګرخبره داده چي آيا طالبانوددي ګواښ ترګولو دمخه دقيق حساب كړي! آياهغوي مناسب جنګي تياري لري؟ آيا د«بري» او«ماتي» ددواړوصورتونودچلنج لپاره ئي معقول بندوبست سنجولي ؟

موږبوځل بيا په طالبانو غږكوو چي ژورسوچ وكړي، اوضاع مطالعه كړي اودپيښوعواقب په پام كي ونيسي ، دوي بايد متوجه وي چي «فتحه ددښمن په كمزوري كي نه بلكي په خپل قوت كي ده » دامنوچي كابل اداره كمزوري شوي ده ، مګردطالبانو دفتحي عامل داكمزوري نشي كيداي بلكي «سوبه » به هغوي په خپل «غښتلتوب» كي لټوي . دكابل ځانګړي دفاعي موقعيت، دقومي انګيزي پرينښت دمسعود شديد فعاليت،په كابل كي د«مسعود» موجوديت اودجنګ رهبري اوقوماندي په لاس كي درلودل، دبګرام دهوائي ډګرموثرفعاليت ، دكابل دري نيم كلني دفاعي كربني، ددفاع ،دري نيم كلنه تجربه درلودل، دنظارشوري دعقبي جبهي مصوئيت ټول هغه فكتوروونه دي چي بايد پري فكروشي .

ددي پرعكس طالبان له خپل مركز نه لري دي، موږچي ئي دموقعيت له مخي ضربه خوړوونكي دي، كه په هرات كي جګړه پيل شي له مركزنه دمرستي ور رسول ګرانيږي په دي ټولو علاوه ، طالبان دروند چلينج داپه مخ كي لري چي بايد پرمختګ وكړي، كه پرمختګ ونكړي، معني به ئي داوي چي ماتي ئي خوړلي خونظارشوري دفاع كړي اود«دفاع» هره شيبه ئي بري ګڼل كيږي.

كه ددي جګړي په نتيجه كي دطالبانو غورځنګ كابل ونشي نيولاي نوپه هيوادكي به بوپيچلي اوستوماتوونكي حالت رامنځ شي . هغه حالت به ډير خطرناك اوځوروونكي وي.

په دي توګه به دطالبانو غورځنګ خپل ټول افتخارات له لاسه وركړي نوپه دي برسيره به ئي دوزماني دبهيرعقربه پرخلاف حركت شروع كړي ». بيا به وخت ددوي په تاوان وي، په همدي وجه ده چي اوس لاسردوخت دي دطالبانوقيادت دي په اوضاع ژور غوروكړي ، ژردي دكابل اداري له مخالفينوسره وخبره باوو اقدام ګډ كړي» د«بوائي پرواز» لاري دي پريږدي ، دالاري ازموبلي شوي دي، هغه ناكامي لاري دي اوپه بندوګودرونوورغلي دي، كه دوي دبوي ګډي جبهي جوړولو اوديوه هماهنګ حركت كولوته جدي چمتوالي ونښئي ، اوجدي عمل وشي، لومړي خوددي احتمال شته چي دكابل اداري مسئولين ،مقابله اومقاومت ګران وبولي، دمعقوليت مظاهره وكړي اوكه خداي (ج) غوښتي و پرته له جګړي موضوع اواره شي، كه داونشي نودجګړي داقدام بري خو به تضمين وي .

قسمت دوم :

> **تذکر:** خواهشمند است در بخش اول این نوشته، پاراگراف اول، سطر پنج جمله، ". . . در آخرین ساعات روز سه شنبه. . ." به ". . . در آخرین ساعات روز دو شنبه . . ." تصحیح شود.
> اداره

# درحاشیه اظهارات مکررجنرال عظیمی

حامد

جنرال عظیمی با ابراز مطالبی ثابت ساختند که یکی از بزرگترین خائنین ملی کشور ما محسوب میشوند. این فقط نگارنده. این سطور یا مخالفین اداره. کابل نیستند که بارها سران اداره. کابل را "انحصار طلب" و "سکتاریست" خوانده اند. عده. زیادی از ناظرین اوضاع افغانستان، سران اداره. کابل را سکتاریست خوانده و اندرین باب دلائل مقنع عرضه کرده اند. اما. هرگز بخاطر نداریم که سران اداره. کابل در سخترانیهای عمومی یا خصوصی یا مصاحبه هایشان از کدام ملیت با عبارات نازیبا یاد کرده یا اینکه برای ملیتی که خود به آن منسوب اند، فضائلی تراشیده باشند. الحمدلله و المنّة که مجاهدین افغان اعم از مجاهد عادی یا رهبر، علی الرغم اختلافات خونین داخلی و اشتباهات مکرر شان، ازین رذالت و خیانت مبراء بوده اند که در مورد افراد منسوب به کدام ملیت یا مذهب عبارات نازیبایی حتی درخصوصی ترین محافل شان ابراز کرده باشند.

اما، جناب جنرال عظیمی علاوه بر اینکه ادعاهای قبلی شانرا نقض کردند، خیانت بس بزرگ و عظیمی مرتکب شدند که تاریخ افغانستان هرگز آنرا فراموش نکرده و نخواهد بخشید.

اگر جناب عظیمی طالبان را با عبارات زشتتر از "مزدور اجانب" هم یاد میکردند، اعتراضی بر ایشان وارد نبود. ایشان بجای اینکه طالب رابکویند، اهالی شریف یکی از ولایت آزاده پرور افغانستان و در واقع کافه. ملت مسلمان افغان را مورد توهین قرار داده اند.

نگارنده قصد ندارد از طالبان حمایت بعمل آورده یا آنانرا تبرئه کند. اما، از تذکار این واقعیت نمیتوان اجتناب ورزید که حساب اهالی این یا آن ولایت ازین یا آن جریان سیاسی بکلی جداست. اسمعیل خان را نمیتوان نماینده و ممثل خواسته های اهالی شریف ولایت هرات خواند. جناب برید جنرال عظیمی را نیز نمیتوان نماینده. خواهران و برادران آزاده. اهل تشیع افغان خواند و بهمین ترتیب طالبان را نیز نمیتوان نماینده و ممثل خواسته های اهالی شریف ولایت قندهار خواند. جناب عظیمی به بخش عظیمی از ملت آزاده و بیگانه ستیز افغان توهین کرده اند و باید بخاطر این توهین از ملت مسلمان افغان معذرت بخواهند. اگر ملت افغان و تاریخ افغانستان روزی سران مجاهدین، طالبان، نظامیان پاکستان و امریکا را ببخشند، و حتی اگر روسهای کمونست و جنرال نبی عظیمی را نیز مورد عفو قراردهند، بدون شك جنرال ظاهر عظیمی را نخواهند بخشید. اینکه جناب عظیمی طالبان را "مشتی از قندهاریان" یا "سه، چهار نفر قندهاری" خوانده و بزعم خود از "اختلافات فرهنگی، تاریخی و لسانی" اهالی هرات با "مشتی از قندهاریان" یاد کرده اند. مرتکب خیانت عظیم ملی شده اند و باید به بارگاه الهی توبه کرده، و از ملت آزاده و سرافراز مسلمان افغان معذرت بخواهند.

آیا جناب عظیمی نمیدانند که قندهاریان و هراتیان همه افراد یك ملت واحد یعنی ملت مسلمان افغان بوده و در طول تاریخ دارای تاریخ و فرهنگ مشترك بوده اند؟ منظور ایشان از "اختلافات فرهنگی و تاریخی" چیست؟

ملت آگاه افغان بخوبی میداند که چه محافل و چه کشورهایی، از مدتی بایننو در صدد اند تا برای هرملیت، قوم، عشیره، طائفه، سمت، ولایت، ولسوالی، علاقداری و خلاصه هر خانواده و بالآخره هر فرد افغان تاریخ و فرهنگ مجزایی بتراشند. ملت آگاه افغان بخوبی میداند که چه کشوری و با چه اهدافی از حدود یك قرن در تلاش بوده است تا برای هرات عزیز ما تاریخ و فرهنگی مجزا از تاریخ و فرهنگ افغانستان بتراشد. این محافل و کشورها نباید فراموش کنند، آتشی که در بین افغانان مشتعل ساخته اند به سرحدات جغرافیایی افغانستان محدود نخواهد ماند.

ملت ما میداند که طالبان اقلاً در مصاحبه هایشان تاحال نگفته اند که مزدور ISI اند، ولی جناب عظیمی ثابت ساختند که مزدورا جانب اند.

آیا میتوان پذیرفت که جناب عظیمی نمیدانند که اکثریت قریب باتفاق اهالی ولایات هرات و قندهار به دو السنه. رسمی کشور ما یعنی السنه. دری و پشتو تکلم میکنند؟ منظور جناب عظیمی از "اختلاف لسانی" چیست؟

جناب عظیمی اگر تا حال نمیدانسته اند، تقصیرخودشان است ولی اینك باید بدانند که افغانستان کلونی مهد هر دو لسان فوق یعنی دری و پشتو هست.

جناب برید جنرال عظیمی خود شانرا منسوب به مردم شریف قزلباش مقیم هرات میدانند. اگر آمدن قزلباشی چون جنرال ظاهر عظیمی که اجدادشان جزوء از لشکریان نادر شاه افشار بودند، به هرات جرم نباشد، آیا آمدن "مشتی قندهاری" به هرات جرم است؟

اگر فرد قزلباشی چون جنرال عظیمی میتوانند معاون کمسیون امنیتی حوزه. جنوبغرب کشور ما باشند، چرا نباید به قندهاریان اجازه داد که به هرات بیایند! مطمئناً اهالی شریف و مجاهد قزلباش افغان که در دفاع از بلست بلست خاك این کشور، جانهای عزیز شانرا تقدیم اسلام عزیزتر از جان، نژاد، قوم، لسان و سمت کرده اند، از اظهارات عظیمی بری. الذمه بوده و ویرا مورد لعن و نفرین قرار خواهند داد.

اگر آمدن قندهاریان به هرات مجازنباشد، باید از جناب جنرال عظیمی پرسید که شما چرا از محترم آیت الله العظمی شیخ محمد آصف محسنی که از اعالی ولایت قندهار بوده و "قندهاری" نیز تخلص میکنند، تقلید میکنید؟ شاید بگویند من نیزز "پیروان خط امام " شده ام که درینصورت بر اساس منطق خودشان، عذریست بدتر از گناه!

انتظار میرود که قبل از سران اداره. کابل، رهبریت محترم حرکت اسلامی افغانستان که در طول دوران مرحله. دوم جهاد مسلحانه، ملت مسلمان افغان علیه استبداد و کمونزم، همواره بدلیل پیروی از سیاستی ملی و مستقل از تهران و قم، مغضوب بخشی از حاکمیت ایران و محبوب ملت افغان بوده است، جنرال عظیمی را بدلیل این توهین بزرگ نسبت به ملت مسلمان افغان مجازات کنند. شکی نیست که این توهین باشاره یا به منظور ترضیه. خاطر آن محافل خارجی ای صورت گرفته که در دوران جهاد از وارد آوردن زشتترین اتهامات بر منظمه. فعال جهادی ای چون حرکت اسلامی و رهبریت شجاع آن بالخصوص محترم شیخ محمد آصف محسنی قندهاری، نه از خدا ترسیدند وّاز مردم شرم کردند.

بار الها! به همه. فرومایگان و مزدوران اجانب اندکی عزت النفس و مناعت طبع اعطا. کن!

****

## دجماعت علماي اسلام افغانستان اساسي هدف

ددي اداري دتاسيس اساسي هدف :

دعوت الي الخير، امربالمعروف اونهي عن المنكر دمقدسي فريضي اداء كولو په ذريعه حقيقي فلاح اوالهي رضائه رسيدل دي كوم چي الله جل جلاله پدي مبارك آيت كي فرمايلي دي :

« ولتكن منكم امة يدعون الي الخير ... » ( الآيه )

عمومي اهداف چي اساسي هدف ته درسيدولارتثبيتوي :

١- تعليم اوتربيت : دقرآن كريم صحيح تلاوت اوتفهيم ، دنبوي احاديثو اواسلامي فقهي دپوهي تعميم ، په ټوله كي دعقيدوي ، اخلاقي، سياسي اواجتماعي اسلامي تعليماتو دخپروني په غرض په پښتواودري ژبودمضامينو ، رسالواوګټوروكتابونوطبع ، ژباره اوتكثير اوعوامو ته په اسانه طريقه داسلامي مبانيو اواخلاقو دتعليم لپاره مناسب تدابيرنيول .

٢- دعوت اوتبليغ : جبهاتو، آزادومناطقو او دمهاجرينو كمپونوته په منظمه توګه دداعيانو اومبلغينو وګوداستول، د تاروا دودونولكه ( دلونوولور، په غم اوښادي، كښي درسم اوسيالي په بنامبلرانه مصارف اوداسي نورچي (دټولني ديدبختي عوامل دي ) مخه نيول اواسلامي اسانه ودونوته دولسونوتشويق اود ذهنونو دتنوير لپاره بي مناسب تدابيرنيول .

٣- اتحاد اواعتدال: دمجاهدينوپه صفونوكي دكامل وحدت اواسلامي اخوت احياء، ددين دبنيادي تعليماتوپه اساس دفكر، نظر اودعوت دمتحد كولو په مقصد دعلماووسره ارتباط نيول، په اختلافي جزئياتوكي دتاويدلوپه ځاي دعالي مرام ( اسلامي حكومت قيام) په لوردهغوي دتوجه تمركز ،دشرعي اصولوپه رڼاكي دعالمانو ترمنځ دذات البيني اختلافي مسائلو دحل دلاريه لټولو، امت دبي مورده اختلافاتوله اضرارو څخه ژغورندي ساتل، دتعصب اوتفرق مخه نيول، ځكه چي دعالمانو دمتعصبانه اختلافات دامت ديدبختي اودتشتت عامل اواتفاق يي دسعادت اواتحاد ضامن دي .

٤- تعاون اومخنيوي : دټولو هغواسلامي قوتونو اوتحريكونوملاتړچي مرام يي داسلامي حكومت قيام اودشريعت نفاذ وي، اودټولو غيراسلامي احزابو اولاديني قوتونو دفعاليتونو مخنيوي ،هغوي دزهرجنو تبليغاتو ړول ړول دسايوورسواكول اودهغوي داجتماعي اواخلاقي انحرافاتو دمخنيوي اوشنډولو په لاركښي مسلسل جهاد اوپدي لاركي خپل ټول مادي اومعنوي امكانات په كاراچول .

٥ - جهاد : دجهاد داهدافو او داحكامو ، آدابو اوفضائلو قلمي اولساني تبليغ، دمجاهدينوپه ذهنونو كي دجهاد دعالي مرام ( داسلامي احكامونفاذ) ترسيخ اوپدي كي دايثاراوقرباني جذبات راپيداروڵ او عملي جهادته دولسونو تشويقول .

## پوهنتون دی...

دمالي مشكل په برخه كي محصلين فيس وركولو ته تيار دي .

دپوهنتون ټول سامان ، لوازم او حويلي چي دمحصلينو حق دي بايد محصلينو ته وسپارل شي چي محصلين ترينه په زده كړه كي استفاده وكري ځكه چي دلټول شبان زموږ په خپلو پيسو اخستل شوي اوجوړشوي دي.

محصلينو ته بايد داسي استاد وركړل شي چي په نورو پوهنتونو كي دشموليت په وخت كي ترينه كاروا خستل شي .

محصلينو ويلي چي استاد سياف دي هغه پريكړه بيرته واخلي چي نور و پوهنتونوتو ته يي احوال وركړي چي ددعوت جهاد پوهنتون محصلين دي ته جذبوي .

## درسقوط هرات...

اسمعیل خان گفته است که هنگام نیروهایش در گرشك باطالبان درگیر بوده ،وی نیروهای تقویتی به آن منطقه اعزام داشت که بامحاصرهٔ طالبان مواجه شد ودر چنین فرصتی قوماندان های ناراض نیز کوچکترین مساعدتی باآنها نکردند که بالاخره همه مناطق را بشمول هرات ازدست دادیم ودر این جهت ملوث ساختن حکومت پاکستان درجهت همکاری باطالبان کاملاً بی بنیاد است .

## اظهارسپاس ازمسؤلین حلقهٔ تربیوی مسجد امام ابوحنیفه

نصرت مینه - ۲۹ سنبله :

چندي قبل دراثر هدايت رياست دعوت وتنظيم و سرپرستي آمريت انسجام حلقهٔ تدريسي وتربيوي درمسجد امام ابوحنيفه (رح) واقع نصرت مينه تأسيس گرديده بود .

مقام مسئول آمريت انسجام رياست دعوت وتنظيم به ادارهٔ شهادت گزارش داده اندكه درنتيجهٔ فعاليت مداوم وخستگي ناپذيرمسئولين اين حلقه تعداد شاگردان روبه افزايش بوده كه اكنون تعداد شاگردان به (۲۱۰) نفرميرسدكه رياست دعوت تنظيم به نوبهٔ خويش از مسئولين آن حلقه اظهارسپاس فراوان مي نمايد .

## دخوگيانيوخلكوته...

مسلسل خبري اتري وشولي بالاخره موږله خپله طرفه فيصله وكړه چي دطالبانومرسته كړو.

### دفساداصلي عامل دكابل اداره ده

موږ دطالبانومرسته وكړه واقعيت دادي شه ډيره مرسته ، هوموږ مرسته چي ددي نه پرته طالبانوته مقاومت كول ډيرګران ؤ .

دتورن اسمعيل اول خط ټپاردشوي ، شيندنډ اودهرات هوائي ميدان ټپاردشوي ، سالنګ كي دشوراي نظارقوتونه مصروف شوي، په بادغيس اوبامیان كي جنګ شروع شوي اوددولت قوتونه چي خواره شوي په دغوجنګونوكي داكارموږدهمدي له پاره كړي چي غوښتل موږطالبانو مرسته وكړو اوهغوي په دي جنګ كي بوالمي پاته نشي .

موږته دفساد اصلي عامل دكابل وانتلافي اداره معلوميږي دهمدي له پاره موږانه دي پيرزوشوي چي داكرغيرنه، جګړه ماره ،مفسده اداره دي په لوګر، ميدان اوپه هلمند اوكندهار مسلطه شي، په خوست په ګرديزولايتونوكي دي مسلطه شي اوطالبانوته دي شكست وركړي . دتوافق نه پرته ديويل سره تعاون ناممكنيده چي په دي منتج شوچي كابل اداره هرات ،فراه اونيمروزله لاسه وركړي اوټول جنوب غرب له دوي نه تصفيه شي، اوس كه ددي رژيم مخالفين په رښتياهم متحدواي په لږ ورځوكي به جګړه پاي ته رسيدلي وه . موږ همداوايوراځي ( تراوسه پوري خوموږرباني ته هم بلنه وركوله ) چي ټول په ګډه كښينوموقت حكومت جوړشي، دي ته دي واك وسپارلي شي، په ټول ملك كي دي اوربند اعلان شي، جګړه دي پاي ته ورسيږي، چي امنيت تأمين شوبيادي پريښودلي شي په چاچي چي اعتمادكولو هغه دي مشر وټاكي . ( دحضارو دتكبير نعري اخواوس وايوچي رباني ديرديوپه لمن كي لويدلي . په روس ئي تكيه اواعتمادكړي هغه غواړي چي دروسانوخدمت وكړي، هغه په جګړوباورلري، هغه خبروانږوته تيارنه دي ، هغه دافغانستان دمسئلي يومعقول حل ته تيارنه دي اوس دي دامخالفين سره متحدشي، هغه دي يوحكومت جوړكړي موږ طالبانوته همداخبره كوي چي راځي يوصالح حكومت جوړوو، وزارتونهٔ په احزابوته تقسيموو، په ملك كي چي ټهولو صالح كسان دي هيڅه راواړاندي كړو، له هغوي نه يوحكومت جوړوو اوبيا اعلان كړوچي موږ غوښتل موږ په هر ډګر كي يوحكومت جوړوو اوبيا اعلان كړوچي واقعيت دادي چي بيا هغه نشي تم كيدي چي كه له سالنګ ، باميان، لوګر ،وسروبي نه ، په يوه وخت په هغه بانډي فشاراشي واقعيت دادي چي هغه مقاومت نشي كولي موږدي ته تياريو . موږ په ملك كي آرامي غواړو، دجنګ خاتمه اويوصالح اسلامي حكومت غواړو چي ددي مظلوم ملت په خدمت كي وي، موږددي ظلم ،فساد ، ناروا ،په بيت المال كي اختلاس ، رشوت اوچپاول پاي ته رسيدل غواړو، چي ديوملك رئيس جمهور رشوت وركوي اورشوت اخلي، چي دبوملك واكداران په اختلاس كي ترستوني غرق وي اودهغوي خيانتونه دومره بربنډوي چي له هيچانه پټ نه وي . اسلام خودوي بدنام كړي دي، نن چي خلكوته پيغور وركول كيږي چي اسلامي نظام همداؤ چي جهاد بدنام شوي، اسلامي نظام بدنام شوي دي داكاركړي . داحالت په ختمول، دخداي (ج) سره په همدي خبره تعهددي، قوم بايد متحدشي اوترڅوچي اسلامي نظام دهغوي په لاس نه وي قائم شوي جهاد به دوام مومي .

زموږدجهاد آرمان تراوسه پوري نه دي ترسره شوي. راځي ددي آرمان دتحقق له پاره ملاوتړو، دمرګ اوددژوند اوشكست اوناكامي فيصله دخداي (ج) په اختياركي ده ، په الله (ج) اعتماد او توكل وكړو اوداخبره ثابته كړوچي زموږ جهاد دخداي (ج) له پاره ؤ اوله اسلامي حكومت نه پرته په بل شي نه راضي كيږو. بايد داسلامي حكومت ترسيوري لاندي دآبرو، عزت ژوندكړو بايد داسلامي نظام قائمولو په لاره كي په شهادت رسيږو. الله ته مودعاهمداده چي زموږ له دغودوو آرمانونوته يو ترسره كړي .

اقول قولي هذا استغفرالله لي ولكم والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته .

له كست نه پلي كوونكي :« عبدالهادي نيازي»

## دحزب ځواكونو دمسعود...

جګړه كي دحزب اسلامي ځواكونوته كوم تاوان ندي رسيدلي .

خبرځاي زياته كړه پدي بريدكي همداراز دوښمنوقواوو (۱۳) كسه ووژل شول اوهم ئي ۲۰ ميله كلاشنكوفونه ولجه شول.

## مولوی " حقانی " له

داقتدارلپاره دپوته چمتونشي، په كابل كي به يوه توندده اوپريكنده جګړه پيل شي .

مولوي احمدجان وويل چي طالبان دجهاد دصالحوقوماندانانو نه يواځي مخالف نه دي، بلكي دهغودرناوي كوي اوپه راتلونكي اسلامي اردوكي به دهغو اساسي نقش او برخه وي، البته دمفسدوقوماندانانوحساب بيل دي .

احمدجان څرګنده كړه چي طالبان په هيڅ رسمي پوست كي دكمونستانو موجوديت نشي زغملاي.

ده زياته كړه چي په پكتيا اوخوست كي په زرګونوكسانوپه رضاكارانه توګه دكابل جګړي ته دتلو تياري ښودلي دي ، اوبولوي لښكرپه روانيدودي.

## دننگرهارشوری

ريوټ وائي چي حاجي قدير اوځوروركسانو له مسعود سره تعهدكړي و چي دسروبي ترنيولو وروسته به ورته ننګرهارسپاري، اوپه دي توګه به ټول مشرقي ولايتونه دكابل اداري په لاس كي لويږي .

ريوټ زياتوي چي په مقابل كي حاجي قديرته يوه زياته اندازه پيسي اوهم دمسعود له خوا دننګرهاردوالي په توګه دپاتي كيدوژمنه وركړله شوي وه .

له بلي خواطالبانوهم حاجي قديرته له كابل اداري سره دهغه دمرستي په وجه شديدګراښ كړي اوددي كار دعواقبو مسئوليت ته ئي متوجه كړي دي .

ريوټ وائي چي په راتلونكيو دوو، دريو ورځوكي په ننګرهاركي داساسي بدلونو قوي احتمال دي.

# دخوګیانیو خلکو ته دورور حکمتیار دوینا متن

دزړونوټوټو!
داسلامي افغانستان امیر ورور «حکمتیار» چې دتېرې جمعې په ورځ دننګرهار د«کږې» په ولسوالۍ کې کومه وېناکړې وه . دادې دهغې بشپړ متن ستاسې مخې ته ږدو :

الحمدلله وکفي وسلام علي عباده الذین اصطفي وبعدفاعوذ بالله من الشیطان الرجیم - بسم الله الرحمن الرحیم .

« ومالکم لاتقاتلون في سبیل الله والمستضعفین من الرجال والنساء والولدان الذین یقولون ربنا اخرجنا من هذه القریة الظالم اهلها وجعل لنا من لدنك ولیا وجعل لنامن لدنك نصیرا » ( صدق الله العظیم )

زما وروڼو ! الله (ج) لکه څنګه چې له ایمان نه بعد په مونږ لمونځ روژه ، حج اوزکات فرض کړي همدارازئې مونږته امرکړي چې دالله ددین دقائمولواوکلیمې دلوړولو له پاره جهادوکړو دقرآن عظیم الشان بې شمېره آیتونومونږ په همدې باندې ماموروګرځولي یوچې دالله په لارکې به جهادکوو. دامبارك آیت چې ماتلاوت کړیه دي کې هم الله (ج)

چې دین بوالحې الله (ج) لره شي وقاتلوهم حتي لاتکون فتنة ویکون الدین کله لله .

جګړه به ترهغه وخته پورې له کافرانواوددین له دښمنانوسره کوو چې دین ټول الله (ج) لره شي اوفتنه پاي ته ورسېږي ، فتنه هغه حالت ته وائي چې دخداي (ج) له دین نه پرته په بومنطقه اوبو اجتماع کې بل دین اوبل نظام قائم وي.ددې فتنې په ختمولوته مکلف ئې ،ترهغه وخته پورې به جهادکوې چې دافتنه پاي ته ورسېږي ، فتنه به پاي ته رسېږي اودین به ټول الله (ج) لره وي. اوته مکلف ئې چې ددې مقصد له پاره به جنګېږې ترڅوچې قیامت نه وي قائم شوي، ته په جهاد مکلف ئې، حق نه لرې چې بوشیبه هم خپله وسله په ځمکه کېږدې چې کله هم تاته چاوویل چې جهاد نورختم شوي ،دهغه مخ ته خاوري وشیندې ، له هغه سره داخبره

**داافغاني چېرته تللي دي ،پدي جنګ شوي ،ملك وران شوي پدي افغانان په قتل رسیدلي ،پدي باندې بې ضمیره بې ایمانه اودین فروشه خلك اخیستل شوي، دهغوي په ذریعه هرقوم باندې داجګړې مسلطي شوي دادځومحدودو ایمان فروشو خلکو په جیب کې لویدلي**

فرمائي چې تاسولره څه دي چې دالله په لاره کې اودهغه مستضعفینومظلومانو دژغورنې له پاره جنګ نه کوئ چې که ناریته دي که ښځې او که ماشومان، دعائي داده چې زمونږ ربه له دغه کلي اوملك نه چې اوسیدونکي اواهل ئې ظالمان دي مونږوباسې، مونږ ته دوتلو اونجات لاروښئي اوزمونږ دمرستې له پاره مونږ ته ولي اومرستندوي راولېږې .

## دجهاد لمړي هدف ددین حاکمیت

دالله (ج) په لارکې دجنګ مقصد دادي چې بوازې دبو الله (ج) بندګي وشي ، انسان دانسان بنده نه وي ،دانسان سرانسان ته ټیټ نه وي، بو انسان دبل انسان آقا او بادارځان ونه ګڼي، په هغه باندې لوئي ونکړي اوفیصلې اوپرېکړې ټولې دالله (ج) ددین مطابق وي، الله (ج) چې څه حلال ګڼلي هغه حلال وګڼلي شي او چې څه ئې حرام بللي هغه حرام وشمېرلي شي ، چاته ئې چې کوم حق ورکړي دهغه حق محترم وګڼلي شي او بودبل په حق تېري ونکړي .دالله (ج) دین دژوندرهنماوي، ستا دلاري مشال وي، ستاټول کړه وړه او مناسبات دوستي،دښمني، راکړه ورکړه ، سوله اوجنګ دوه، دستور، خوشحالي اوخفګان، داټول دالله (ج) ددین له پاره وي، ددې له پاره چې دالله (ج) دین قائم او شریعت ئې حاکم شي ، دالله (ج) له دین نه پرته بل څه ته دخلکوشخړي ،منازعات اومشاجرات راجع نشي څکه دایمان لړیه غوښتنه همداده ،له دې نه پرته الله (ج) دچاایمان نه قبلوي الله (ج) صریحاً فرمائي چې :

ستاپه رب دې قسم وي اې پیغمبره چې دوي ایمان نه راوړي ، ایمان ئې خداي (ج) ته مقبول نه دي ترڅوچې تاپه خپلوشخړو اومشاجراتوکي حکم نکړي،اوبیاچې ته دهغوي دشخړوپه باب کومه فیصله کړي په هغې کاملاً راضي نه وي او ورته تسلیم نه وي، له دې درې شرطونونوپرته ایمان نه دي قبول، دین به حاکم وي، خپلې ټولې شخړې به دخداي (ج) دین ته راجع کوي، بیابه ددین په فیصلې راضي کېږي ، که هغه دلاس دپرې

**وروڼو ! نن هم افغانان له خپلو حقوقو څخه محروم دی افغانان مظلوم دی ،ددی جنګ او دجګړی ټول مصرف ستاسی دهرېوه له جیب نه وځی .**

کولو فیصله کوله په دې به راضي ئې که ئې درجم اوسنګ سار کولو فیصله کوله په هغې به راضي ئې، دین چې کومه فیصله کوله پدې به د زړه نه راضي یې او عملاً به ئې منې .

چاچې دالله(ج) ددین مطابق فیصلې ونکړې قرآن فرمائي چې هغه یافاسق دي یا ظالم دي یاکافردي. «ومن لم یحکم بماانزل الله فاولئك هم الظالمون، فاولئك هم الفاسقون ، فاولئك هم الکافرون»

په ماانزل الله چې چاحکم ونه کړ قرآن فرمائي چې دایاکافردي ،یاظالم دي او یافاسق ، ددې معنې داده چې ستاحاکم اوزمامدار ټولواك نه دي. لکه مخکې مرجې پاچایانوته ټولواك ویل بلکه پیغمبرعلیه السلام فرمائي چې ستاسورئیس ستاسوخادم دي، دقوم رئیس دهغوي خدمتګاردي دهغوي ټولواك اوواکدارنه دي آقا اوبادارئي نه دي، خلك دهغه غلامان نه دي، دي دخلکوامین دي، خلکوورته بوامانت سپارلي، هغه دخلکودسر،مال، شتمني ،آبرو اوعزت امین دي ، هغه به امنیت تأمینوي ، هغه به عدالت راولي، هغه به هرچاته خپل حق سپاري ،دظالم به لاس نیسي او دمظلوم به مرسته کوي، دمظلوم ملګرتیابه کوي اودمظلوم حق به دظالم نه اخلي اوټول مشاجرات اوشخړې به دالله (ج) ددین مطابق حل اوفصل کېږي، ستاحاکم تاانتخاب کړي، تاورته داامانت سپارلي، هغه ستادملي شتمنیو امانت داردي ، هغه ته چې ته کوم واك اوصلاحیت سپاري داهغه په لاس کې بوامانت دي ، هغه به ځان ستا آقا اوبادار اوټولواك نه ګڼي، ستا دټولو شتمنیو اوداراتي اوستا مالك الرقاب به ځان نه ګڼي بلکه هغه به ستاخدمتګاروي .

الله (ج) مونږ په دې مکلف کړي بوچې ترهغې ورځې پورې به جهادته ادامه ورکوو

مه منه څکه ستاپیغمبروائي چې تر وریاندې ایمان لري چې جهاد دقیامت ترقیامه پورې ادامه کوي .

وروڼو! لاتراوسه پورې زمونږ په ملك کې اسلامي نظام نه دي قائم شوي، په کابل کې هم، په ولایتونوکې هم ، تراوسه پورې لاهغه آرمان نه دي ترسره شوي دکوم له پاره چې تاسې بونیم ملیون شهیدان ورکړل، ستاسې ټول ملك وران شو ، ستاسې دملك لویشت ، لویشت په وینوسره شوه، خوګیاڼي چې دکوم آرمان له پاره راپورته شوي وو، کورونه ئې وران شوي هجرتونه ئې کړي، شهیدان ئې ورکړي هغه ارمان نه دي ترسره شوي، لاژمونږ په ملك کې اسلامي نظام اواسلامي حکومت نه دي قائم شوي .

## دجهاد دوهم هدف دمظلومانوژغورل دي

وروڼو! دجهاد دوهم هدف دادي چې ته به دمظلوم مرسته کوي، الله (ج) صریحاً فرمائي تاسوولې دالله (ج) په لاره کې نه جنګیږي اودهغه مظلومانو مستضعفینودنجات اوژغورنې له پاره نه جنګیږي که ناریته دي که ښځې که ماشومان اوهغوي په فریاد ،فریاد سره الله (ج) ته دعاکوي چې اې زمونږ ربه ! له دغه کلي ملك نه چې اوسیدونکي اوواکداران ئې ظالمان دي مونږوباسه ، مونږته دنجات لاره وښیه .

دخپلې خوامونږته بورلې اومرستندوي ولېږه. چې ترڅوپه دیناکې بومظلوم وي ته مکلف ئې چې دهغه مظلوم دژغورنې له پاره به جهادکوې، پـه هغـه باندې ظالم اومستبکرمسلط شوي، هغه له خپل حق نه محروم دي ،کوم حق چې خداي (ج) ورته ورکړي هغه ورنه غصب شوي، ترڅوچې ددنیاپه کوم ګوټ کې مظلوم وي اوپه هغه باندې ظالم حکومت کوي ته چې په کلام اوقرآن دې ایمان دي، دهغه مظلوم دنجات له پاره په جهاد مکلف ئې، الله (ج) صریحاً تاته فرمائي، دلته علما ناست دي دادالله (ج) امردي دادقرآن آیت دي، دمظلوم دنجات اوژغورنې له پاره ته په جهادمکلف ئې که تاولیده چې ددنیا په یوګوټ کې مسلمان

مظلوم دي، دهغه حق پامال شوي، هغه نشي کولي چې آزادانه دخداي (ج) بندګي وکړي دهغه مال، سر، آبرواوعزت خوندي نه دي هغه دخپل ایمان اواسلام په جرم بندي کېږي، شکنجه کېږي، له ملك نه په هجرت مجبوریږي په دې صورت کې په تافرض دي چې ددغه مظلوم مرسته به کوي .

ددې ایت په څنګ کې بل ایت دي که په دین کې بې له تانه مرسته وغوښتله بومسلمان مظلوم دي تاته ئې دمرستې لاس اوږدکړاودهغه حالت داوائي چې دهغه مرسته وکړي په تاباندې دهغه مرسته فرض ده که داکارونکړي فتنه به مسلطه کېږي ، کفربه مسلط کېږي اولوي فسادبه وي بیاته دي ته منتظراوسېږه چې دافتنه به ستالمن هم نیسي، ددې فتنې په اورکې به ته هم سوځې، بیا لوي فسادته انتظاروکړه .

